پوهنمل حاجي محمد نوزادي

۲۰۱۷/۰۲/۱۰

# زیری: د کشتمند د تهمتونو ضد کتاب له چاپه ووت

## (دریمه برخه)

کارغه ځان لکه طاؤس مابنام کې و ښود
خو سهار یې راز ښـــرګند شو له رفتاره

(د س. کلیوال له خوا د یوه دری شعر له پښتو ژباړې نه)



**( په تیري (دویمي) برخي کي د کشتمند د ځیري د لا ښه پیژندلو په موخه ، دا هم یاده سوه ، شوروریانو چي کله یې د افغانستان په هکله د خپل شپاړسم جمهوریت خوبونه په اوبو کي لاهو ولیدل، نو یې د دې هیواد د تجزیې پلان تر لاس لاندي و نیو او سلطانعلي کشتمند ته یې د دې کار د عملي کولو چاري و سپارلې. په دې اړه دا هم یاده سوه چي کشتمند څنګه دسیسه جوړه کړی وه، څو د اساسي قانون د لاري د هیواد د تجزیې د پاره حقوقي بنسټونه جوړ کړي.)**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ګرانو لوستونکو ! مخکي تر دي چي د ( ګنځ ) پنامه د اکاډمیسن استاد ګلداد خان کتاب در وپیژنم ، د کشتمند د اصلي څیرې د لا ښه بربنډولو په اړه لاندي کرښي هم په زړه پوري او د یادولو وړ یې بولم:
د تیرو برخو تر نشر وروسته یوه وطنوال ما ( ددغو کرښو لیکوال ، نوزادي ) ته د هالیند نه تلیفون وکړ . هغه د کشتمند د واکمني پر مهال د اوبو او بریښنا په وزارت کي یو جګپوړی غړی پاته سوی وو . ده د کشتمند د ناخوالو د رابرسیره کول په موخه زما دغه لړی و ستایل او دده په هکله یې یوه کیسه راته وکړه . دا کیسه ما پخوا هم اوریدلي وه . د شوروي اشغال پر وخت د هیواد په هر ولایت او اکثرو اولسوالیو کي شوروي وسله والو قوتونو چي هغه زمان یې « قطعات محدود قوای دوست » بلل ، کنډکونه ځای پر ځای سوی وه . یوه شپه په ننګرهار کي ددغو اشغالګرو ډلو یوولس ( ۱۱ ) تنه په وسلو سمبال کسان د خیلي ساحي څخه راوتلي وه او یوه افغان دهقاني کور ته ور ننوتلي وه . هلته یې د کورنی ( ۱۱ ) غړي په ډیره وحشانه توګه و وژل ، پر مړو او ټول کور باندی یې پطرول و ښندل او اور یې ور واچاوه . وروسته یې ( ۱۱ ) پسونه ورسره یووړل چي د شوروي د اردو د ورځي په ویاړ یې کباب کړي . په سهار یې په کلي بد حالت منځته راغي . د مرکزه څخه هم د څیرني په موخه د
شوروي قطعاتو هیات ورغي . لنډه داچي هغه ( ۱۱ ) تنه یې ونیول ، هغوي پر خپل جرم اعتراف وکړ او محاکمه سول . ددغه لعنتی عدد په اړه باید ووایم ، تر هغه ځایه چي زما را یاد دي ، دغه بیساری تاریخي جنایت د کومي یوې میاشتي پر ( ۱۱ ) نیټه تر سره سوه وو . ددې پیښي وروسته د کشتمند په ابتکار خاد تصمیم ونیو څو پیښه پر افغاني مجاهدینو چي هغه وخت یې په رسمي رسنیو کي ( اشرار ) بلل ، تاوان کړي . ددې سره یې سم په ګوند او دولت کي په پراخو تبلیغاتو او پروپاګندو لاس پوري کړ چي ګویا دغو اشرارو ددې د پاره چي د دوستو شوروي قواوو نوم بد کړي ، د هغوي په یونیفورم کي دا جنایت تر سره کړیدی.
پدې اړه مي نوموړي دوست په تلیفون کي داسي راته وویل : « یوه ورځ صدراعظم کشتمند د اوبو او برښنا د وزارت ټوله رهبري ( وزیر ، معینان او ټول رئیسان ) خپل دفتر ته ور وبللو . هلته یې ځیني داسی خبري مطرح کړي چي په دغو بللو نه ارزیدې . مګر د بلني اصلي موخه یې دا وه چي باید ټول مامورین او کارګران پدی یوه کړو چي دغه د ننګرهار پیښه اشرارو د قوای دوست د عسکري یونیفورم څخه په ګټه اخیستلو سره کړیده . باید برای همه فهمانده شود که دوستان ما ابداً چنین عمل را انجام داده نمي تواند » . د یادولو وړ ده چي دا موضوع په افغانستان کي د شوروی قواوو ستر قوماندان جنرال مایوروف پخپل کتاب « په افغانستان کي رښتیا څه تیریدل » کي د ټولو جزئیاتو سره لیکلي ده . دی یادوي چي ننګرهار ته ددغي پیښي د څیړلو پخاطر ورغلم . کله چي بیرته کابل ته را وګرځیدم ، ولاړم د کشتمند دفتر ته او ده ته مي دا کیسه وکړه او ورته مي وویل چي هغو یوولسو تنو شوروي عسکرو پر خپل جرم اعتراف کړي ، محاکمه سول او سخته جزا به ورکړه سي . دی وایي کشتمند راته وویل ، دا حقیقت نلری ځکه دا کار اشرارو په شوروی یونیفورم کي کړیدی ، دغو بیګناه عسکرو ته نباید جزا ورکړل سي . دی وایي چي ما هر څومره دلایل او اسناد ورته وړاندي کړه چي هغو زما په مخ کي اعتراف کړیدی ، کشتمند نه منل او ویل یې چي دا یو نا سم پوهاوی دی او نوموړي عسکر کاملا بیګناه دي . مایوروف زیاتوی چي له ده نه وروسته کارمل ته ورغلم . هغه ته مي هم دا کیسه وکړه او کارمل هم هغه د کشتمند خبره راته په ټینګار سره تکرار کړه.
ددغو غمرلو کرښو په لوستلو سره سړي ته دا سوال پیدا کیږي ، نوموړی جنرال چي حتما د خپل وطن د پاره یو وطنپال افسر وو ، افغان اوولس به ورته څومره بیچاره او دغه ټپل سوي مشران به ورته څومره زیون ، منفور او بیګانه ښکاریدلي وي.
د وطن او اولس سره د کشتمند د کرکي او نفرت ناخوالي لړي ندی . کله چي د اولس نوم اخلو ، ددې خبري مانا دا نده چي کشتمند یوازي د غیر هزاره وطنوالو سره دښمني کول او هزاره یې ټول په غیره کي نیولي وو . د دغه انترناسیونالست زړه ته یوازي او یوازي هغه کسان نژدي ول چي د « کا جي بی » لخوا په ورته سپارل سوي دنده کي دده همږغي وه او په صداقت سره یې کار ورته کاوه . د بیلګي په توګه په هزاره ګانو د ( قطره او ذره ) کورنۍ ، په تاجکو کي نجیب الله مسیر غوندي کسان او په پښتنو کي د میرصاحب کاروال ډله ټپله . انترناسیونالست کشتمند یوازي هغه وخت هزاره سو چي شوروي اتحاد د ډړي وړي کیدو په لور روان وو او « کا جي بی » له افغانستانه په تړیکو وتلي وه . دا وخت ده بله چاره نه درلوده او هزاره ټبر ته یې پناه یووړه او ځان یې د هزاره ګانو خواخوږی و باله . دا هغه مهال وو چي د خلک دموکراتیک ګوند ( د وطن ګوند ) نور خپل نزولي پړاوونه په چټکی سره پر مخ بیول ، د غړو بیګناه لیکي یې نه پوهیدلي څه وکړي ، خو د کستمند غوندي د سیاسي بیرو غړو یې د ځان د خلاصون او سپینوولو د پاره پلانونه پاخه کړي وه . د کشتمند د پلانو د پیل د پړاو یوه برخه دا وه چي دی به د ګوند نه استعفي کوي او هزاره کیږي به . ددې پلان د عملي کولو په لړۍ کی یوه ورځ د کابل په دښت برچي کي چي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په خیر و لولئ

اکثره اوسیدونکي يې زموږ هزاره وطنوال دي ، د يوه مرحوم هزاره و فاتحي ته تللي وو ، هم هلته د يوه تن لخوا
برید وربانديي وسو او مرمۍ یي د ککرۍ پر ځای پر غوږ ولګیده . بخت يې پر ځای وو چي د مرګ نه بچ سو مګر
د څه وخت د پاره معیوب وو ، څو په پای کې يې ځان د هغو بې شمیره پیسو په برکت چي د صدارت پر مهال يې
ټولي کړي وي ، د روسیي د لاري لندن ته ورساوه او درملنه يې وسوه . هغه مهال داسې ګنګوسي وي چې د هم هغه
مړي د کورني یوه غړي چي دی يې فاتحي ته ورغلی وو ، دا برید ور باندي تر سره کړی دی . دا څکه دده د صدارت
پر مهال دده ورور اسد کشتمند چي په عیاشۍ او بداخلاقۍ کي غرق وو ، هلته د یوې هزاره کورني د یوې معصومي
نجلۍ سره چي ویل کیده ډیره ښکلي وه ، په زوره بدلمني کړې وه.
د انترناسیونالست کشتمند یوې لور چي مسکو ته يې د لوړو زده کړو د پاره لیږلي وه ، هلته يې پر خپل یوه هم صنفي
روسي ځوان باندي زړه بایللی وو او د افغاني نورمونو او اسلامي شریعت په خلاف يې د هغه ځوان سره د کشتمند
څخه تر اجازې اخیستلو وروسته په ډیر لوړ لګښت سره د شانداره مراسمو په ترڅ کي واده وکړ او کشتمند به د « کا
جي بي » د غړو سره په خصوصي باناړونو کې تل دا خبره کول چي « .... بعد ازین همراه با خون ما تار و پود
وجود ما با سویتیزم در امیخته شد » . کله چي په افغانستان کي تر ماتي وروسته په ۱۹۹۲ کال شوروي اتحاد دړي
وړي ، سوسیالیزم او سویتیزم دواړه د کپیتالیزم د ښامار خولي ته ولویدل ، په ازاد سوو جمهوریتونو کي پرویتیزیشن
( د عامه شتمنیو خصوصي کیدل ) پیل سوه . پدغه وخت کي دا اوازه خپره سوه چي ښاغلي کشتمند خپلي هغي لور
ته چي دده وینه يې د سویتیزم سره ګډه کړې وه ، یوه د مکروني فابریکه رانیول . داچي د هغه وخت د قوانینو له
مخي خارجي اتباعو حق نه درلود پدغو جمهوریتونو کي غیر منقوله شتمني ولري ، د لور په غوښتنه يې کشتمند دا
فابریکه د خپل زوم پنامه و پیرودل . په ۱۹۹۸ کال په مسکو کي یوه روسي متخصص چي په افغانستان کي کار کړی
وو ، کیسه راته وکړه چي د کشتمند زوم د فابریکي د تر لاسه کولو دوه کاله وروسته دده لور ته طلاق ورکړ ،
فابریکه او ټوله شتمني يې چي دده پر نامه وه ، و ده ته پاته سول او هغه بیچاره نجلۍ چي د پلار د ځان غوښتونکو
او مقام پرستو هیلو د تر سره کولو پخاطر يې سویتیزم ته مخ اړولی وو ، خالي لاسونه پاته سوه.

نور بیا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ